


# کرونا د اسلامی شریعت په رڼا کی:

## د کورونا وایروس (کووید۱۹) په هکله تفصیلی فتوا

لیکنه : استاذ دکتور علی محیی الدین د مسلمانانو د

Ketabton.com

علماؤ د نړیوالی اتحادیي عمومی منشی

ژباړه : عبد الظاهر الأثری.

۱۳۹۸ / ۱۲/ ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرونا د اسلامي شريعت په رڼا کې:

د کورونا وايروس (کوويد۱۹) په هکله تفصيلي فتوا

ليکنه : استاذ دکتور علي محيى الدين د مسلمانانو د علماؤ د نړيوالي اتحاديی عمومی منشي

ژباړه : عبد الظاهر الأثرى.

د نوي کورونا وايروس ، چې نړدې د ډيرو خلکو ژوند ګواښي او په ډيره تيزی سره خپريږي د تعامل د حکم په هکله پوښتنې زياتی شوي.

د دغې ناروغی د خپريدو څخه د خلاصون په موخه د جماتونو د تړلو، د جمعي او د جماعت د لمانځه د پريښودو څه حکم دی؟

او هغه کومې دعاګانې او چارې دي چې يو مسلمان يې په داسې وبايي ناروغيو کې تر سره کړي ؟

د محترم شيخ جواب په لاندې توګه دی:

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين، وعلى آله وصحبه وبعد،

لمړی: داسې وباګانې او وايروس راتلل د الله تعالی د تقدير برخه ده، او د الله تعالی په قدرت د قاطع دلايلو څخه يو دليل دی تر څو هغه څوک چې الله تعالی يی هلاکول غواړي د الله تعالی په يو کوچني لښکر هلاک شي ( وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ).

په همدې توګه دا د الله تعالی خوښه ده چې هر څوک که مسلمان وي يا غير مسلمان ورباندې مبتلا کړي، او الله تعالی پر داسې وباګانو ډيرو نورو ته درس ورکول غواړي، هغه مسلمان چې په داسې وباګانو صبر وکړي الله تعالی ورته د شهيد اجر ورکوي، په صحيح البخاري کې حديث شريف دی: أن عائشة ــ رضي الله عنها ـ سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الطاعون فأخبرها..أنه كان عذاباً يبعثه الله على من يشاء، فجعله الله رحمة للمؤمنين "فليس من عبد يقع الطاعون، فيمكث في بلده صابراً يعلم أنه لن يصيبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


إلا ما كتب الله له إلا كان له مثل أجر الشهيد"

(عائشې رضی الله تعالی عنها د نبي کریم ـ صلی الله علیه وسلم ـ څخه د طاعون ) ـ وباء ـ په هکله پوښتنه وکړه : نبي کریم ـ صلی الله علیه وسلم ـ ورته وویل : بېشکه چې دا د الله تعالی عذاب و په هغه چا چې يې اراده وه رالیږلی و، الله تعالی د مؤمنانو لپاره رحمت کړ، هیڅ بنده مسلمان به نه وي چی دا طاعون ورته رسیږي او په خپل وطن کې پاتي شي ،صبر وکړي او دا یی باور وي چی د الله تعالی د تقدیر نه پرته هیڅ شی ورته نه رسیږي مګر د داسې بنده لپاره به د شهید اجر وي.)

دويم : اسلام په مونږ دوه کارونه لازموي:

۱ـ په الله تعالی باندې سم ایمان او باور درلودل، او دا چې هر څیز د الله تعالی د تقدیر سره سم د الله تعالی په قدرت سرته رسیږي، او بله دا چې مونږ ته د الله تعالی څخه د مقرر څیز نه پرته هیڅ هم نه رسیږي (لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا).

۲ـ د اسبابو کارول چې په دې کی پرهیز، علاج ، د روغتیا لپاره ځان ساتنه او ټول هغه څه چې د روغتیا پالو له لوري لازم ګڼل کیږي، په دې سره د حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د موقف څرګندونه کوي، کله چې عمر فاروق رضی الله تعالی عنه پوه شو چې شام کې وباء خپره ده، د شام هیواد ته د ننوتلو څخه انکاري شو، ابو عبیده بن الجراح ورته وویل: ایا د الله تعالی د تقدیر څخه تېښته کوي ؟ عمر فاروق رضی الله تعالی عنه وفرمایل: هو ، د الله تعالی د تقدیر څخه د الله تعالی تقدیر ته تېښتو.

او همدا د تلې د دواړو طرفینو د برابرښت پوهه ده، یعني د تلې ښي اړخ کې باید په الله تعالی د ایمان عقیده وي، او د تلې په چپ اړخ کې د مشروع وسایلو کارول وي، ځکه الله تعالی د همدې وسایلو د کارولو امر کړی دی.

دريم : د طاعون ناروغي معلومه ده ، چې د وباء څخه عمومیت لري ، د لغت علماء داسې وایی چې: وباء طاعون ته ویل کیږي، او دا هر هغه عام مرض دی چې د یوې سیمې خلکو باندې راځي.

څلورم: شک نشته چې دا وباء ګانې عذاب دی ، بلکه الله تعالی ورته (رجز) ویلی او دا کلمه په قرانکریم کې لس وارې په عامو او سختو دنیاوي او اخروي عذابونو په معنی

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلی ده.

خو د الله تعالی د سننو څخه یوه دا ده چې کله کله که د الله تعالی عذاب نازل شي نو یواځې ظالمانو ته نه بلکه نورو ته هم رسیږي، الله تعالی فرمايي: (وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً).

په همدې توګه د الله تعالی د سننو څخه دا هم ده چې کله وباء ګانی خپرې شي بیا نو د ظالم او کافر او مؤمن تر مینځ توپیر نه کوي ، خو په دې وخت کی په مؤمنانو واجب دي چې ټول هغه لازم اسباب چې په شرعي، عقلي او روغتیايي لحاظ غوښتنه کوي وکاروي.

پنځم: اسلام د وباء یا د وژونکي وایروسونو د ښکاره کیدو په وخت د یو سلسلې لارښونو مراعات لازمي کړی دی:

1. خپله سیمه او ښار د روغتیا په خاطر پرینبودل ، یا کومه سیمه کې چې طاعون یا وباء راغلي د روغتیا په خاطر هلته نه ورتلل په صحیح مسلم شریف کې راغلي:

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُونُ آيَةُ الرِّجْزِ ابْتَلَى اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهِ نَاسًا مِنْ عِبَادِهِ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ فَلَا تَدْخُلُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَفِرُّوا مِنْهُ”

ژباړه : نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: طاعون د سخت عذاب نښه ده، الله تعالی وربانديې ځیني خلک اخته کړي، که تاسې د کوم ځای د طاعون خبر واورئ هلته مه ورننوځئ، او کله که په هغه ځمکه طاعون راشي چې تاسې پکې یاست نو له دغه ځایه تیښته مه کوئ.

زمونږ پخوانیو علماؤ یادونه کړې چې د روغتیا په خاطر د خپلې سیمې څخه د ناروغ پر مهال د نه وتلو حکمت دا دی چې: ناروغي خپره نشي، نور خلک په دې ناروغۍ اخته نشي، تر څو هغوی ته د ضرر رسولو ګناه ورپه غاړه نشي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: " لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ"

ژباړه : نه به د بل څخه څوک متضرر کیږي او نه به چاته ضرر رسول کیږی.

بناء دا جایز نه ده چې څوک نورو ته په دین، بدن ، عقل، مال او یا په نورو شیانو کې د ضرر رسولو سبب شي، په همدې توګه مادي او معنوي دواړو اړخونو کې باید نورخلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل ضرر څخه وساتي، بلکې پخوانيو علماؤ د ساري ناروغيو د خپروني په تحريم ټينګار کړی دی.

اوهغه سيمه کې چې وباء خپره شوې، د نه ورتللوحکمت دا دی چې خپل نفس د هلاکت سره مخامخ نه کړي، يا د هلاکت سبب کيږي، ځکه چې د بدن او روغتيا ، او د عقل ساتنه د شريعت د مهمترينو مقاصدو څخه ده.

2. ـ هغه هوا چې په وبايي وايروسونو ککړه وي تنفس نکړئ، معنی دا چې کوم ناروغان چی په دې ناروغی اخته دي ورنږدې نشئ، البته صرف د علاج په خاطر ورنږدې کيدای شي هغه هم د لازم وسايلو د کارولو وروسته، ځکه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايی: " وَفِرَّ مِنْ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنْ الْأَسَدِ" يعنی د هغه ناروغ څخه چې د جذام په وبايي ناروغی اخته دی داسي ځان وساته لکه څرنګه د زمري څخه ځان ساتې، او د دې حديث شريف د " لَا عَدْوَى" يعني ناروغي بل چاته سرايت نه کوي، صحيح حديث سره کوم تناقض نشته

مطلب دا دی چې ناروغي د جاهليت د عقيدې په څير په خپل ذات او طبيعت سره بل چاته سرايت نه کوي، همدا د سمې او شرکي عقيدې معيار دی، البته د ساري ناروغيو څخه تېښته د اسبابو د کارولو په معنی ده چې الله تعالی يې د کارولو امر کړی دی ، د همدې معنی په سموالي دا بل حديث شريف هم ټينګار کوي " لَا يُورِدُ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ" يعنی په ناروغی اخته به روغانو ته نه ورځي.

3. احتياط او ځان ساتنه، او د هلاکت د اسبابو څخه ځان ژغورنه، اوټولې چارې الله تعالی ته سپارل، او په الله تعالی باورکول، پرته د سوچ فکر او هر ډول تشويش،

ابن اثير په خپل کتاب: الکامل فی التاريخ کی يادونه کړې: کله چې مسلمانان په عمواس نومي وباء مبتلاء شول، عمرو بن العاص روغ خلک غرونو ته د يو وخت لپاره و ويستل او په غرونو کی يی ډلي ډلې وويشل، او د يو بل سره د يو ځای کيدو څخه يی منع کړل، تر ډير وخته دا ډلې په غرونو کی پاتی شوې تر څو په ښارونو کی په ناروغی اخته ټول ناروغان شهيدان شول نو په غرونو کې پاتې ټولې ډلې ښارونو ته راستانه شوې، او همدا د هغه مهال روغتيايي ځان ساتنه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. په دې ډګر کې بله مهمه لاربښونه دا ده چې په هر چا د خپل ځان علاج واجب دی ، او په ټولنه او حکومت واجب دي چې د داسې ساري ناروغيو د علاج په خاطر خپل ټول امکانات په کار واچوي ، او هغه څوک چې د خپل ځان علاج نه کوي د ډيرو دلايلو له مخې ګناه ګار دی، د تفصيل لپاره زمونږ کتاب : فقه القضايات الطبية المعاصرة ته مراجعه وکړه.

5. د ناروغۍ اعلان، کله چې څوک پوهه شي چې په وباء اخته شوی، او يا دا چې د وباء په محيط کې يی شپې کړي خو د ځينی ضرورتونو په خاطر د وبايی محيط څخه را وتلی بايد مسؤلين په خپل حال خبر کړي، که مسؤلين خبر نه کړي نو د دوه جرمونو مرتکب دی : يو جرم د ناروغۍ د پټولو، او بل جرم د ناروغۍ د انتقال لامل کيدلو او د ناروغۍ د خپرولو، هر څوک چې په دې ناروغۍ اخته کيږي دا يې د خپروني په ګناه کې برخه لري، حديث شريف کې راځي: " الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ". يعني حقيقي مسلمان هغه دی چې نورو مسلمانانو لپاره هغه څه خوښ کړي چې ځان لپاره يی خوښوي او څه چې د ځان لپاره بد بولي د نورو مسلمانانو لپاره هم بد وبولي.

شپږم: د ناروغيو خپريدلو څخه ډار :

اسلام د فطرت سره سم دين دی نو ځکه د دې ناروغيو څخه د ډاريدلو نه څوک نه منع کوي، البته په ناروغۍ مبتلاء بايد دا ايمان او باور ولري چی الله تعالی يواځې خالق دی او د هر څه لپاره الله تعالی اسباب پيدا کړي دي. بلکه د ناروغيو څخه ويره او ډار واجب دی.

حافظ مناوي وايی: د واجب ډار څخه يو دا ده چې څوک د جذام په ناروغۍ اخته وي ورڅخه و ويريږي تر څو پخپله په دغه ناروغيو اخته نشي. او همدا حديث شريف دی چې : "فِرَّ مِنْ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنْ الْأَسَدِ" نو د خپل نفس او جسم او خپلو ګټو او د بدن غړو، مالونو او عزتونو ساتل واجب دي. بل دليل چی د ناروغيو څخه د ډار او ويرې جواز نه بلکه وجوب معلوميږي د ابن ماجه روايت دی چی : { أَنَّهُ كَانَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ رَجُلٌ مَجْذُومٌ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:" ارْجِعْ فَقَدْ بَايَعْنَاكَ"}.

يعني هغه د ثقيف قبيلې وفد چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د بيعت لپاره راغلی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تن پکې په جذام ناروغۍ اخته و، پیغمبر علیه السلام ورته ځوک ور واستاوه چې ته ستون شه ستا بیعت تر سره شو.

د خوراک ځښاک په مورد کې د ځان ساتنې او احتیاط په وجوب ډیر دلایل دي او په ځانګړي ډول هغه احادیث چې د لوښو او ظروفو د پټولو په هکله راغلي دي، همدارنګه هغه احادیث چې هغې کې د علاج امر شوی یا هم د لاسونو او خولې د مینځلو امر شوی، په همدې توګه هغه احادیث چې په لارو، او ونو لاندې او عامه ځایونو کې د لوي او وړوکي قضاء حاجت څخه منع راغلی تر څو نور خلکو ته یې بدې اغیزې ونه رسیږي.

نو اسلام دین د داخلی او خارجی د پاکوالي او نظافت دین دی، الله تعالی فرمایی: (وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ) یعنی جامې او کالی دی پاک کړه، په همدې توګه الله تعالی فرمایی: (إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ) یعنی الله تعالی د توبه کوونکو او نظافت لرونکو سره مینه کوي.

همدا ده چې اسلام د اودس، غسل او د کورونو او د میدانونو په نظافت او صفایی ټینګار کوي.

د دغه دلایلو څخه یو هم د ابو ذر رضی الله تعالی عنه حدیث دی : عن أبي ذر رضی الله تعالی عنه: عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:" عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا فَوَجَدْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذَى يُمَاطُ عَنْ الطَّرِيقِ وَوَجَدْتُ فِي مَسَاوِي أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ"]

یعني: ابو ذر رضی الله عنه وایي چې نبي علیه السلام فرمایلی دي: ماته زما دامت نېک او بد اعمال را وړاندې شول، ما په نېکو اعمالوکې د لارې څخه د خزلو لرې کول هم ومیندل، او د بدو اعمالو تر مینځ مې هغه بلغم ولیدل چې په مسجد کې ښکاره پراته و او چا ورباندې خاورې هم نه وې اړولې.

اوم : د وباء له امله کوم کوم شیان پرېښودل جایز دي

شک نشته چې الله تعالی د شریعت اسلامي د مهمو مقاصدو څخه یو هم د دین او نفس ساتنه یاده کړې ده ، نو اصل دا ده چې د دین او نفس دواړو ساتنه وشي او تر مینځ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعارض پېښ نشي پر مونږ د دواړو ساتنه واجب ده يعني بايد هم دين وساتو او هم خپل بدنونه او عقلونه، خو کله کله د دواړو ساتنې تر مينځ تعارض راځي چې دلته د الله تعالى په بندګانو لطف ، رحمت او مهرباني څرګنديږي، الله تعالى د ځينو عباداتو په پرېښودو ببښنه کوي، لکه څرنګه چې د اکراه په حالت کی د کفر په کلمه نطق جواز لري، الله تعالى فرمايی: ☹ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ ) يعني هغه څوک د الله تعالى د ګرفت څخه مستثنى دی چې د اکراه سره مخامخ شي خو زړه يې په ايمان مطمئن وي. د دې ايت ورته نورو ايتونو څخه او د نبوي سيرت څخه دا لاس ته راځي چې ويره او خوف د فرائضو او واجباتو د پرېښودو لپاره يو مقبول عذر دی البته کله چې په خپلوشرطونو برابر وي، د دې موضوع سره اړوند لاندېني شيان د يادونی وړ دي:

1- د لمونځ کونکو تر مينځ د وباء د خپريدو د ډار څخه د جمعي او د جمع لمونځ پرېښودل

زمونږ فقهاؤ ويلي دي چې هغه ويره او ډار چې له کبله يي جمعه او د جمع لمونځ پرېښودل کيږي په درې قسمه دی :

1- دا چې يو سړی د ځان په هلاکت و ډار شي يا د بدن ځينو برخو په تلف وډار شي يا وربانديې کوم تېری کيږي ياهم د سختو وهلو خطر ولري، ياهم د اختطاف يا د بندي کيدو خطر سره مخامخ وي ، ياهم د ځناورو د حملې سره مخامخ کيږی، په دې ټولو حالاتو کی جامع جمات ته چې دغه خطرونه پکی وي پرېښودل جواز لري.

2- دا چې يو څوک د جمعي يا د جماعت د لمونځ په تللو کی د مال د ضايع کيدو خطر سره مخامخ کيږي، بلکه که څوک د خپلې سورلی په هکله ويريږي چې ځناور يی وداړي هم جمعه او جماعت پرېښودل جواز لري.

3- دا چې څوک د جمعي يا جماعت د تللو له کبله د خپل اهل او اولاد په هکله خطر ولري، مثلا د چا په کور کی يو ماشوم وي او داسې څوک نه وي چې د هغه ساتنه وکړي او يا دا سړی ويره لري که لمونځ په خاطر مسجد ته ولاړ شي يو نږدې انسان د مرستې پرته له مرګ سره مخامخ کيږي او ياهم د شهادت د کلمي د تلقين څخه محروميږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګڼ شمیر دلایل شته چې د جمعې لپاره تګ هله واجب دی چې انسان ته نفس په رابطه کوم خطر متوجه نه وي همدارنګه اهل او مال ته يي هم خطر متوجه نه وي، دلایل په لاندې توګه دي:

1- ( وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ) یعني الله پاک پر تاسي په دين کې کوم تنګسي نه ده لازمه کړې، بل آيت کې راځي:

2- ( يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ) يعني الله تعالى پر تاسو د اسانی اراده لري او د سختی اراده نلري .

ابن قدامه وايي: د جمعې او د جماعت په پرېښودو خايف يعني د ډار او ويرې څښتن معذور بلل کيږي، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: " مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِيَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ اتِّبَاعِهِ عُذْرٌ قَالُوا: وَمَا الْعُذْرُ؟ قَالَ: خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ" یعني څوک چې اذان واوري او د اذان اجابت څخه کوم عذر نه وي منع کړي ، صحابه ؤ و فرمايل : عذر څه شي دی؟ نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د عذر څخه مراد ويره او ناروغي ده .

او خوف او ويره په درې قسمه ده:

1. په نفس ويره
2. په مال ويره
3. په اهل ويره

نو دغه ټولو دلايلو ته په پام سره د وباء ګانو لکه کرونا يا (کوفيد19)د خپريدو پر مهال د جمعې او جماعت لمونځونو ته نه حاضريدل جواز لري ځکه دا ويرونکې وباء ګانی بلل کيږي، خو په دې شرط چې ويره او ډار يقيني وي او صرف يو وهمی شايعه نه وي؛ ځکه د واجباتو پرېښودل تر هغه جواز نلري تر څو غالب ګمان نه وي راغلی، يا دولتي چارواکو امر نه وي کړی او ياهم د روغتيا اړوند لورو چې متخصصين وي غوښتنه نه وي کړي.

البته زما په آند د جامع جوماتونو تړل تر هغې جواز نلري تر څو وباء خپره شوي نه وي يا دولتي چارواکي يې د تړلو اوامر نه وي صادر کړي، د مکاتبو او مساجدو د تړلو لپاره معيار د حکومتي چارواکو يا د روغتيايی ادارو اوامر صادريدل دي، که داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوامر صادر شي نو بیا په هغه سیمو کې چې د وباء د خپرویدو ویره وي باید مساجد او مکاتب وتړل شي، اما نورو سیمو کې باید جماتونه او مکاتب خلاص پاتي شي.

د وباء له امله د حج او عمرې ځنډیدل

زما د علم سره سم په تاریخ کې داسې پیښنه نه ده ثبت شوې چې له کبله یې د حج مراسم په کلي ډول ځنډیدلي وي، البته د قرامطهٔ له کبله څو کاله د حج مراسم ځنډیدلي چې دوی د کرغیړن حکومت په دوران کې د حج مراسم بند کړي و، او په ځینې نورو ښارونو کې د طاعون او د وباء له کبله هم بند شوی وو،

حافظ ابن کثیر په خپل مشهور کتاب البدایه والنهایة کې لیکلي دي، د ۳۵۷هـ کال په مشهورو پیښنو کې د ماشري ناروغي په مکه مکرمه کی خپره شوه په پای کې ډیر خلک پکې مړه شول او په همدې کال د حاجیانو اوښان په لارو کې د زیاتې تندې له کبله مړه شول چې مکې مکرمي ته ډیر لږ شمیر کې ورسیدل او هغه هم اکثره یې د حج د فریضې د اداء کولو څخه وروسته مړه شول،

په کال 2009م کې کله چې د انفلونزا ( (H1_N1ناروغي خپره شوه د حج د ځنډولو ځینې فتوګانې را ښکاره شوې، خو هغه مهال د سعودي حکومت موضوع د فقهي او طبي له اړخه وڅیړله او دې نتیجې ته ورسیدل چې د انلفونزا خطر باوري نه دی نو د حج د بندیدو اعلان یې ونکړ، خو بیا یې هم جدي قدمونه پورته کړل په علمي او فني لحاظ یې اجرآت سخت کړل او د بوډاګانو او ناروغانو راتلل یې منع کړل.

سږکال1441هـ چې د 2020م سره سمون خوري د سعودي حکومت د کورونا ناروغی له کبله عمره تر نا معلوم وخت پورې وځنډوله تر څو وقایوي اجرآت یې کړي وي.

په کال 1316هـ د حج د ځنډیدلو هڅه وشوه ځکه چې په هاغه وخت کی د کولیرا ناروغي د خپریدولو د فرانسوي استخباراتو له لورې اوازې شوې وې.

د حج د اداء کولو وخت د مستعمرې او اشغال شوي مسلمانانو لپاره ډیر خطرناک و؛ ځکه په عمومي توګه حاجیان به د علماء او مفکرینو او د اسلامي پوهنتون د داعیانو سره لیدنې کولې نو ځکه د فرانسي استخباراتو اوازه واچوله تر څو د مستعمرې مسلمانان و ډار کړي او حج ته ولاړ نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید محمد رشید رضا د مصر هیواد د موقف یادونه کړې او ویلي یې دي: په مصر کې د وزیرانو ځانګړی مجلس دائر شو تر څو د حاجیانو د حج څخه د منع کولو موضوع وڅیړي چې ګوا کي حاجیان به د حجاز څخه مصر ته وباء را انتقال کړي، خو دا چې حج د دیني ارکانو څخه یو رکن و او د دیني چارو سره یې اړه درلوده نو ځکه یی د وزیرانو مجلس پریکړه نه شوه کولای ترڅو چې یې د دینی علماؤ څخه فتوا او موافقه نه وي اخستی، نو ځکه د وزیرانو د مجلس مشر د مصر د قاضی ، شیخ ازهر، د مصر مفتي، شیخ عبد الرحمن النواوي، د حقانی مفتي، شیخ عبد القادر الرافعي او د علمي مجلس پخواني رئیس څخه وغوښتل تر څو مجلس کې ګډون وکړي ، کله چې یې مجلس کې ګډون وکړ او مجلس په خپریدو شو، د دې فتوا د لیکلو لپاره سره راټول شول تر څو یې د وزیرانو مجلس ته ولیږدي، فتوا یې په لاندیني متن تحریرکړه: { الحمد لله وحده.. لم یذکر أحد من الأئمة من شرائط وجوب أداء الحج عدم وجود المرض العام في البلاد الحجازیة، فوجود شيء منها فیها لا یمنع وجوب أدائه على المستطیع }

ژباړه : الحمد لله .. هیڅ یو امام د حج وجوب د اداء کولو لپاره د حجاز په سیمه کې د عامې ناروغی نه شتون شرط ذکر کړی نه دی ، نو که لړه ناروغي شتون هم ولري د توانمند لپاره د حج اداء کول نه منع کوي.

بناء که څوک د حج د اداء کولو اراده لري که څه هم مرض موجود وي توانمند کولای شي چې حج فریضی لپاره ولاړشي.

البته هغه شرعي نهي چې د وباء ځمکې ته د تللو څخه منع کوي، ورڅخه هغه حال مراد دی کله چې ورسره په مقابل کې یو قوي شی مخامخ نه وي او دلته ورسره د حج قوي فریضه مخامخ ده، او همدا موضوع زمونږ د علماء کرامو په خبرو کې شتون لري.

دا (مصری فتوا) فتوا په ۲ ذی الحجة کال ۱۳۱۶هـ کی ولیکل شوه.

هذا والله أعلم،

والحمد لله رب العالمین

خو راجح نظر دا دی چې کله که وباء په یقیني توګه یا هم په غالب ګمان خپره شوي وي او د تجربه لرونکو او متخصصینو له خوا تائید شوي وي چې ټول حاجیان یا ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجیانو ته د ګڼي ګوڼي له امله ناروغي رسیږي نود عمرې او د حج د اداء کولو مراسم په لنډمهاله توګه او د اړتیا سره سم منع کول جایز دي .

د فقهاؤ په اتفاق د لارې د ویرې په مهال د حج پرېښودل جایز دي، بلکه توامندي د لارې امن او امان پورې تړلی ده، نو څکه وبایي ناروغی د حج او عمرې د څنډېدو لپاره یو مباح عذر بلل کیږي البته باید د ناروغی ښخه خوف او ویره په غالب ګمان شتون ولري، او د دې پرېکړې کول د متخصصینو ډاکترانو مسؤلیت دی، چې دځنډولو فرمان به د سعودي عرب د حکومت لخوا صادریږي.

خو که حج او عمرې ته تګ د سعودی حکومت لخوا منع نشي، نوحج ته تګ یا نه تګ پریکړه به بیا هغه هیواد ته سپارل کیږي چې وباء ورپکې خپره شوې ده تر څو حج یا عمره وځنډوي او کنه. تر څو وباء یا طاعون نورو حاجیانو ته انتقال نکړي.

اتم : دعاء ګاني او الله تعالی ته عاجزي کول

د طبي علاج کولو سره سره مستحب ده چې هر مسلمان د وباء د خپریدو پر مهال لاندې دعاء ګانی دیرې ولولي:

- (قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ)]
- (بسم الله الذي لا يضر مع اسمه شيء في الأرض ولا في السماء وهو السميع العليم) درې وارې یا هم ډیر،
- (أعوذ بكلمات الله التامات من شرّ ما خلق)
- سورة الإخلاص درې وارې،
- المعوذتین درې وارې ،
- (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ استُرْ عَوْرَاتي، وآمِنْ رَوْعَاتي، اللَّهمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَين يَدَيَّ، ومِنْ خَلْفي، وَعن يَميني، وعن شِمالي، ومِن فَوْقِي، وأعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحتي)
- (لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ)
- (اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ، وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ، وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ، وَجَمِيعِ سَخَطِكَ)
- (اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ، وَالْجُنُونِ، وَالْجُذَامِ، وَمِنْ سَيِّئِ الأَسْقَامِ)

(c) ketabton.com: The Digital Library


•د قرآن الکریم، اوذکر تسبیحات ډیر ډیر لوستل.

هذا والله أعلم

اول د رجب الخیر 1441هـ

ما دا لیکنه د قاری صیب اکمل احرار اللغمانی له وال څخه راخیستی...

چی اوس د مصر هیواد په الزهر پوهنتون کی خپلی اسلامی زده کړی پرمخ بیایی.

(زه انجینر فریدون دلسوز اللغمانی د لغمان پوهنتون د سیول انجینری محصل)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**